**دوستان خوب!**



به روز شنبه، تاریخ 14 اسد 1391 خورشیدی برابر با 4 آگست 2012 میلادی، روزنامهٔ "سرنوشت" در کابل از چاپ برآمد. در این شمارهٔ روزنامه (شمارهٔ 659) مقاله ای تحت عنوان "د آغا خان خونړی پروژه او په بدخشان کی د اسماعیلیه دولت جوړیدل" به قلم آقای محمد انور ولید بچاپ رسیده است. در عین زمان در همین روز، هفته نامهٔ دیگری بنام "حق" نیز مقالهٔ دیگری را تحت عنوان "له تاجکستان سره په ګډه پوله ناآرامی، په سیمه کی د یوه نوی بدلون پیلامه!" بقلم باتور میرنی بطبع رسیده است. در این مقالهٔ دومی عنوان بغلی "د امریکا نوی پروژه او د نوی دولت لپاره د اسماعیلیه ډلی هڅی:" بچشم میخورد.

مقالهٔ روزنامهٔ اول خیلی مفصل است، ولی مقالهٔ هفته نامهٔ دومی با آنکه کوتاه تر است، در عین وقت کلمات و تصورات کاملاً تکراری اخبار نخستین است. هر دو مقاله در هر دو اخبار (اولی روزنامه و دومی هفته نامه) به زبان پشتو نوشته شده است. من مقالهٔ روزنامهٔ اولی را مرور کردم و تأثرات خود را بر این مقاله متمرکز ساختم. آنچه که در زیر میخوانید ناشی از همین انگیزه است. من هم کوشیدم تا نوشتهٔ خود را به زبان پشتو نوشته کنم و همین کار را کردم و جهت نشر به روزنامهٔ "سرنوشت" فرستادم، ولی معلوم نیست که این روزنامه اجازهٔ نشر آن را خواهد یافت و یا خیر؟

اکنون این نوشته را جهت در جریان قرار دادن خواننده های "سیمای شغنان" و "ولانگه" به این دو "سایت" ارسال مینمایم تا خواننده در هر دو بخش از موضوع آگاه شوند. در این اواخر با الهام گیری از برخوردهائی که میان نیروهای نظامی دولت تاجکستان و مردمان بدخشان تاجکستان صورت گرفته، بعضی از نهادهای "مدنی" روی اوضاع تاجکستان مکث نموده و بهانه ای بدست آورده اند تا آن را با "شبکهٔ انکشافی آقا خان" پیوند دهند و بعد پای اسماعیلیان بدخشان را نیز به این ماجرا بکشانند.

نوشتهٔ آقای خوش نظر پامیرزاد نیز اخیراً بی ارتباط به این موضوع نیست که از نوشتهٔ کوتاه و بی سراپای آقای رزاق مأمون متأثر است. در اینجا توجه دوستان را بمطالعهٔ نوشتهٔ خودم به زبان پشتو معطوف میدارم، امیدوارم اگر غلطیی در نوشته ام بمشاهده برسد، با بزرگواری خویش معذورم بدارند.

علی شا صبّار
کابل، افغانستان
23 اسد، 1391 خورشیدی برابر با 12 آگست 2012 میلادی

## «سرنوشت»
## په بی برخه لیکئ کی غواړی څه ووایی؟

په دا څو آخرنی ورځو کی په کابل کی یوه ورځپانه چی دیر پیژندل شوی هم ندی، او د «سرنوشت» (برخه لیک) په نامه یادیږی، د سه شنبه ورځ، د زمری ۱۴، ۱۳۹۱ کال له چاپه ووت. دغه ورځپانه چی عنوان او یا نوم یی یوه سچه پارسی کلمه ده، خو په تأسف سره، په دغه ګڼه کی آن یوه کلمه هم په پارسی ژبه لیکل شوی ندی. دا پدی معنی چی دا یوه پښتو ورځپانه ده. د دی اخبار په لمړی صفحه کی یوه مقاله ترسترګو لیدل کیږی چی عنوان یی دی: «د آغاخان خونړی پروژه او په بدخشان کی د اسماعیلیه دولت جوړیدل».

د مقالی لیکوونکی، ښاغلی محمد انور ولید دی، او داسی ښکاریږی چی دا ښاغلی یو د پښتنو مین سړی هم دی او مونږ هم له خدای څخه غواړو چی دی دا خپل تصور سره ټول عمر ژوند وکړی. په مقاله کی، د ننه په افغانستان کی د ځنی خلکو او تلوالو باندی نیوکی شویدی، او په عین وخت، د ملی وحدت په هکله ګواکی د محبت نه ډکه خبری شویدی. دلته غواړو مخکی تر هرڅه نه د هغه خلک او سازمانونو نومونه واخلو چی په دغه ګڼه کی د هغوی څخه یاد شویدی، ترڅو لوستونکی وپوهیږی چی د دی ښاغلی له خولی څخه د ملی وحدت بوی راځی او نه؟ دا لاندی نومونو ته پام وکړی:

«اسماعیلیه فرقه، ستم ملی، سید کیان، کریم آغاخان، صدرالدین آغاخان، طاهر بدخشی، انګریز، امریکا، شوروی اتحاد، روسان، هند سمندر، افغان مجاهدین، د مجاهدین او پرچمیان ایتلاف، ۵۰۰۰۰ افغان خادستان، استاد برهان الدین، د نظار شورا حکومت، مجاهدینو تش په نامه حکومت، امریکایی ایتلاف د شمال ټلوالی، احمد شا مسعود، د هلمند او کندهار یورانیم، جنرال پرویز مشرف، ملا فضل الله، مولانا صوفی محمد، شمالی ټلوالی مشران، افغانان او ملی یووالی، لر او بر پښتون ځپل، په لوی بدخشان کی د اسماعیلیه فرقی شوم پلان، جنرال دوستم، عطا محمد نور، ګوسفندی تاجکستان، هندوستان، افغان حکومت او ملی یووالی، په ولس مشری ټاکنو کی د دکتر عبدالله راپورته کول، د پیر صاحب او حضرت صاحب ګوندونه چاته کار کوی، د بلخ والی عطا محمد نور په پښو درول، د شمال لړه کی پښتانه او د تاجک او هزاره میشتو سیمو، په افغانستان کی ځنځیری وژنی، ټول قتلونه پر طالبانو ورتپل، په پاکستان کی د مهاجر قومی غورځنګ مشر، د بلوڅانو مشران او پڼتا ګون، احسان الله بیات او ...»

د دی نومونو او عبارو څخه بربنده کیږی چی د لیکوال موخه څه دی او غواړی د چا په هکله څه ووایی؟ د دغه نومونو باندی په منفی ټوګه ګوته نیول شویدی، او آن د طالبانو او کرزی باندی هم په احتیاط سره نیوکی شویدی. لیکوال د خپل د هر جملو په آخر کی بیا وایی چی: «آغا خان د لوی بدخشان دولت جوړوی». ولی سربیره پر دی، زه هم غواړم خپل تأثرات د دی لیکنی په خاصی مواردو کی چی د «آقا خان، اسماعیلیه او لوی بدخشان» په هکله دی، لوستونکو ته وړاندی کړم، دا ځکه چی زه د دی کلمی سره قومی او مذهبی اړیکه لړم:

دا مقاله په لمړی وار سره د افغانستان د تجزیی خبری یی رامنځ ته کړیدی او بیایی ویلی دی چی دا یوه پخوانی خبره ده. دا موضوع د (B) تر پلان لاندی سرته رسیږی، خو څرګنده شوی نده چی دا د (B) ځنګه یو پلان دی؟ کښلی دی چی: «اسماعیلیه فرقی ته د سید کیان تر مشری لاندی د چترال د کریم آغاخان او صدرالدین آغاخان په مالی مرسته وده ورکوله، او له بل خوا یی د طاهر بدخشی ترمشری لاندی د ستم ملی ګوند ته د نفاق اوبه ورکولی ...»

په نقله شوی قول کی څو ټکی د اصلاح وړ دی: لمړی باید لیکوال پوه شی چی څوک، څه نومیږی او چیری اوسیږی او په کومه زمانه کی ژوند کوی؟ په چترال کی د کریم آغاخان په نامه څوک ژوند نکوی او له هغه ځای څخه اسماعیلیان، نه لارښوونه کیږی. دا ښاغلی باید پوه شی چی والاحضرت شاه کریم الحسینی چی «آقاخان» یی ورکړ شوی لقب دی، د نړی د اسماعیلیانو یواځنی امام یا مذهبی لارښود، پخپله زمانه کی دی، چی ټول اسماعیلیانو ته لارښوونه کوی او آن کله کله ټول مسلمانانو ته خپل خیر او برکت رسوی، او په دی سلسله کی، دی، نه څلویښتم (۴۹) امام دی چی د شیعه د تصور پر بنا؛ لمړی امام، حضرت مولا مرتضی علی علیه السلام دی او والاحضرت هم په مستقیمه ټوګه د حضرت مولا له نسل څخه دی چی ټول مسلمانان په نړی کی ورباندی ویاړی.

بله خبره داده چی مرحوم سید نادرشاه کیانی د اسماعیلی فرقی مشر نه وو، هغه د یوه باعزته روحانی پوه شخصیت په ټوګه په افغانستان کی د نورو روحانی مشرانو سره اسماعیلیان یی د والاحضرت آقاخان تر مشری لاندی مرسته کوله او د یو معتبر شخص په ټوګه یی ژوند کاوه، چی دا سید دیر کلنو پخوا سترګی له نړی څخه پټه کړی دی، خدای یی وبخښی. د ۲۰۰۲ زیږدیز کال نه وروسته، والاحضرت څلورم آقاخان، د افغانستان اسماعیلیه جماعت د لارښوونی پخاطر په رسمی ټوګه د افغانستان د دولت په همکاری سره «جماعتی ادارو» یی منځ ته راوړ چی په عادی ټوګه دغه جماعتی ادارات د اسماعیلیانو دپاره خدمت کوی او دوی یی په اسلامی ښیګنو باندی پوهوی چی یو مسلمان پخپل ټولنه کی ځنګه ژوند وکړی او د اسلامی کوم اخلاق خاوند وی، او د یو مسلمان په مقابل کومه ژبه سره خبری وکړی ترڅو د آخرت دپاره ځانته توښه لاسته راوړی.

صدرالدین آقاخان هم، اوس ژوند ندی، دی د والاحضرت شهزاده کریم آقاخان، اکا وو چی کلونو کلونو دپاره یی په ملل متحد کی د مهاجرینو کمیشنر وو، او کله چی د افغانستان «مجاهدین» په هر ګوډ کی مهاجر شول، دی یی دوی ته په کراتو مرسته کوله چی د مجاهدین مشران هغه باندی ښه پوه دی.

«د آغاخان خونړی پروژه»، بله عباره ده چی د مقالی په عنوان کی راغلی. دغه پروژه نده، بلکی د پروژو یو لوی شبکه ده چی اصلی نوم یی «د آقا خان د وډی شبکه / شبکهٔ انکشافی آقا خان» چی مرکزی دفتر یی په کابل کی او په ځنو ولایتو کی چی د کار شرایط ورته مساعد وی هلته منطقوی دفترونه لری، چی په هغه باندی ټول خلک خبر دی او په کلو او باندو کی غریبو او مصیبت ځپلو خلکو سره مرسته کوی، چی د هغه په جزئیاتو باندی نه څرخیږو، خو دغومره ویلای شو چی په دا ټول شبکه کی کابو ۵۰ سلنه نه زیات پښتانه کار کوی، آن په بدخشان کی. لیکوال (ښاغلی ولید) کولای شی چی دغه رقم د AKDN مرکزی دفتر، سرینا هوتل، روشن مخابراتی کمپنی، د کوچینیانو دپاره فرانسوی روغتون، د آقاخان فرهنګی خدمتونو اداره او نورو دفاتر څخه تر لاسه کړی.

د دغه لیکنه په هکله هره جملو او عبارو باندی د نیوکی ځای شته، خو زه مسوولیت نلرم چی ټوله مقاله باندی ګوته کیږدم، اما زه ناچاره یم خپل اسلامی ایمان او عقیدی پخاطر، هغه ځایو کی چی زما په اسلامی مذهب پوری اړه لری، خپله غصبی ښکاره کړم، ځکه چی ښاغلی ولید د یو هیواد وال په ټوګه خپل هیوادنی مسوولیت یی شا ته کینبود او هر څه یی چی په خوله راغی د افغانستان اسماعیلیانو باندی یی وار کړ، او په دی پوه نشو چی دوی هر څوک چی یاست کم تر کمه د دی ښاغلی هیواد وال دی. ولی دا هم معلومه نده چی دا ښاغلی خپله څوک دی؟ او د کوم هیواد تبعه دی؟ د جملو څخه یی معلومیږی چی دی د هیوادنی فرهنګ سره څه پخلا ندی او هغه کلمی چی دی استعمال کړی دی، افغانستان خلک ورسره آشنا ندی، لکه: «هزاره ډیویژن، هزاره صوبه، میدیا، ... او نور.»

په بله پراګراف کی راغلی: «او د لوی بدخشان لمړی پاچا د چترال د کفارو ستر مذهبی مشر او د یهودو خاص نماینده کریم آغا خان درامه».
مقاله د دی «درامه» په هکله زیات توضیحات نه ورکوی او یا څه نلری چی ووایی. خو یواځی ناپاکی خبری له خوله باسی، او یو مومن مسلمان ته چی شپه او ورځ د اسلام په هکله فکر کوی د «کفر» نوم ایږدی، او په ربښتیا سره نه شرمیږی چی ځان مسلمان بولی او د بل مسلمان باندی د کفر ګرم لګوی. زه فکر کوم چی د ولید څخه دغسی خبری له خوله وتل د حیرانتیا ځای ندی؛ ځکه، دی چی په عمدی ټوګه ځانته د «ولید» تخلص غوره کړی دی او دغه «ولید» د «یزید» سره مترادفی کلمی دی، او له بله خوا «ولید» د څو اموی خلفاوو نوم هم دی، بیشکه دی هم، هغسی چی معاویه د خپل په خلافت کی دستور ورکړ چی د حضرت مولا علی علیه السلام په هکله بده او له شرم نه ډکه خبری د مساجدو د منبر له لاری له خپلو خولی څخه وباسی، نو د خپل «ولید» څخه مو څه ګله وکړو، ممکن دی هم د همهغه اموی نسل څخه وی، او دا خبره هم د هغه سلسلی دوام

دی چی تر اوسه یی اورو. دا د کفر مسأله ندی بلکی دا د مذهبی اختلافاتو زیږنده ده، چی بیعقل انسانان د اسلام د ټوټی ټوټی کولو پخاطر، د اسلام د دښمنانو په دستور خوله اچوی او دغسی خبری هر خوا ته حواله کوی.

بله خبره د «لوی» واژه او یا کلمه ده چی ولید یی د «بدخشان» په څنګ کی راوړلی دی: (لوی بدخشان). په رښتیا سره په بدخشانی فرهنګ کی داسی کلمی مروجی ندی، هسی چی پښتانه تل وایی: «لوی پکتیا، لوی پکتیکا، لوی خوست، لوی قندهار، لوی ننګرهار، لوی کنړونو ...» او داسی نور لویان هره ورځ د رسنیو څخه تر غوږو کیږی. خو په تأسف سره په بدخشانی او په تاجکی فرهنګ کی داسی لوی غوښتنی نه ښکاره کیږی. نو د «لوی بدخشان» مطرح کول یوه تازه خبره ده، حال داچی د ناصر خسرو اسماعیلی پوهنه له کشمیره نیولی تر بخارا او له سینګیانګ څخه نیولی تر سویلی ایشیا پوری پلن دی، ولی څوک نه وایی «بدخشان بزرګ». ښه شو چی دغه ښاغلی مونږ یی دغه ټکی ته متوجه کړ چی باید خپل قدرت او عظمت باندی پوه شو.

د شرعی لحاظه کله چی یو مسلمان بل مسلمان ته د کفر او یهود خطاب وکړی، نو د هغه جزا به څه وی؟ که مونږ وغواړو، کولای شو چی دغه ښاغلی به محکمی ته راکاږو او دی باید خپله ځواب ورکړی. که د نورو شواهدو او سندو څخه تیر شو، یواځی دا به کافی وی چی: والاحضرت شهزاد کریم آقا خان، هغه د افغانستان د بهر نه لمړی مسلمان وو چی د افغانانو د «بابای ملت» د جنازی په لمونځ کی یی ګډون وکړ او د رییس جمهور حامد کرزی تر څنګ د جنازی لمونځ یی ادا کړ او تر مرنجان تپه پوری یی دغه جنازه مشایعت کړ. نو دا ښاغلی د یو مسلمان او هغه هم د یوه اسلامی مذهب لارښود باندی څنګه بیځایه تور لګوی؟

د خلکو هڅول اسماعیلی فرقی ته، یو بی بنیاده خبره ده، هغه هم د یوه ښځی لخوا، اسماعیلیان ضرورت نلری چی نور مسلمانان ځان خوا ته جذب کړی، او دی ته هم ضرورت نلری چی ځانته یوه کوچنی هیواد جوړ کړی، اسماعیلیان اوس کم ترکمه په ۳۰ ختیځ او لودیځ هیوادونو کی په لوی افتخار او سرلوړی سره ژوند کوی. دی نه پرته، دا ښاغلی خبر ندی چی د جلال آباد، کنړو او لغمان پښتانه اسماعیلیانو ته زمینه مساعده شوه چی غربی هیوادونو ته لاړ شی او خپل ژوند هلته په مخ بوزی، نو دلته څه ضرورت دی چی خلک اسماعیلی مذهب ته راوبلل شی. د اسماعیلیانو له نظره دا ټول مذاهب په اسلام کی د اسلام د مدنیت ښکارندوی دی او د اسلام عظمت ښیی.

د «لوی بدخشان د اسماعیلیه فرقی شوم پلان» دا هغه عباره ده چی مونږ یی د بدخشان له نومولو نه وروسته د لمړی ځل لپاره د یو افغان له خولی څخه اورو. مونږ د دیورند په کرښه باندی نیوکه کوو چی پښتانه یی سره بیل کړیدی. حال دا چی دی خواه پښتانه او هغه خوا پښتان په کیلومترو واټن سره بیل او لیری دی. ولی د آمو په دواړو غواړو، بدخشانیان آن پنځه دقیقی د دوی کورنی سره واټن نلری. نو څنګه کیدای شی چی د دیورند کرښی په شا و خوا خلک یو ځای کیدل یوه مشروع حق دی ولی په لوی بدخشان کی دا یو «شوم پلان» دی – ومنه چی دا خبره رښتیا ده – دا د یو «هیواد وال» قضاوت دی. اوس نو ولید، بدخشان خلکو ته یوه لوی ذهنیت ورکړ چی دوی هم باید سره یوه شی، اما نه یواځی د لوی بدخشان، اسماعیلیان، بلکی د لوی بدخشان ټول اوسیدونکی که شیعه دی او که سنی باید دی ټکی ته متوجه شی چی پښتانه خپل یووالی غواړی او د «افغان» په نامه په افغانستان کی د خالص پښتنو حاکمیت غواړی، نو د لوی بدخشان خلک هم دا حق لری چی د افغانستان تاجکانو لارښوونی په لاس کی واخلی. زه په دا طرح سره د خپل پښتانه ملګرو څخه شرمیږم، ولی مجبور یم چی ولید غوندی خلکو خبری ته یواځی داسی ځواب باید ورکړ شی.

دغه لاندی عباری هم د دغه مقاله د پراګرافونو په منځ کی راغلی او هر یو ځانته د تبصری وړ دی، خو په تأسف سره د خبری د اوږدوالی له کبله نشو کولای پر هغه باندی خپل نظر وړاندی کړو، مګر لوستونکی به پخپله دغی نظریی باندی قضاوت وکړی چی تر کومه حده پوری ښاغلی ولید حق په برخه ده:

«د طلوع نیوز په حواله امریکا غواړی چی د تاجکستان او افغانستان بدخشانونه تر چترال او ګلګیت سره یو ځای کوول او د اسماعیلیه دولت جوړول»، «امریکا او انګلیس دواړه په تاجکستان، افغانستان او پاکستان کی اسماعیلیه نوی دولت جوړوی»، «ډیره موده وړاندی له یوی خوا اسماعیلیه فرقی له بدخشانه تر بغلان او نورو شمالی سیمو پوری د خپل عقیدتی کمپاین لمنه پټه غځولی ساتلی وه»، «کرزی هم داسی څوک نه دی چی پرته له شیعه ګانو څخه بل افغان ته یی ګټه رسیدلی وی»، «په افغانستان کی د احسان الله بیات مخابراتی او ساختمانی شبکی او د آغاخان [آقا خان] د لرغونو آثارو رغولو پروژی ټولی د همدغه دولت د تشکیل او دعوت لپاره په افغانستان کی روانی دی»، «په سیمه کی یوه کفری دولت جوړول»، «او خپل [امریکا] ۳۰۰۰۰ پوځیان د اسماعیلیه دولت د جوړیدو او ملاتړ په خاطر هلته همغی سیمی [لوی بدخشان] ته له افغانستانه د وتو په پلمه وړی». نو ښکاره نده چی د «سرنوشت» ورځپانه، د دغسی لیکلو سره څه غواړی چی ووایی او خپله برخه لیک چا سره وتاکی؟

باید وویل شی چی د دغسی د نظرونو بیانول، د یو بله اونیزه له خوا د «حق» په نامه، د آګست ۴ او زمری ۱۴ نیټه، کال ۱۳۹۱/۲۰۱۲ کی چاپ شوی دی چی کوم توپیر په هغه کی نه لیدل کیږی چی هغه باندی ځانته خبری وکړو، ولی دا خبره د ویلو وړ دی چی د دی ټولو سرچینه به یواځی یو خاص ځای وی چی له هغه ځای څخه زهر پاشل کیږی. زما نظر دا دی چی تر اوسه پوری په افغانستان کی د خلکو ترمنځ داسی بد نیتی په ښکاره ډول په خاصه توګه د مطبوعاتو له لاری خبری شوی ندی. افغانستان چی د ژبو، قومونو، مذهبونو یوه ګلالی کلکسیون دی تر اوسه پوری هیڅوک ځانته دا حق ندی ورکړی دی چی په بربنده توګه د بل ژبه یا قوم یا مذهب په هکله بده خبره وکړی، یواځی دا فرهنګ له پاکستان څخه زده کړ شوی، ځکه هلته په هره دیوالو باندی لیکل شوی دی چی: «شیعه کافر» او نور داسی د تفرقی خبری. ولی اوس اوس «په خیر سره»

دغسی غمجنه حرکتونه د ښاغلی ولید له خوا پیل شوی دی. نو زه فکر کوم چی د غیر هیوادوال (پاکستانی او ایرانی) څخه باید سړی دومره گلی ونکړی.

په پای کی د ویلو وړ دی؛ که ومنل شی چی دغه لیکنه د «سرنوشت» له لاری د یوه هیوادوال د گلی په توګه چاپ شی، نو زه دخپل د خرابی پښتو له امله د لوستونکو څخه معافی غواړم. ځکه چی پښتو زما دریمه ژبه ده، او له بله خوا پښتو د پارسی په پرتله دیره مشکله ژبه ده او زده کول یی هم دغومره آسانه کار نده، دا ولی چی په پښتو کی د تأنیث او تذکیر او آن د تخنیث علامی په فعلونو، صفتونو او نورو ژبنی پدیدی کی راځی او دهغه تفکیک او پوهیدل یی هم هغومره مشکل دی.

شاه پور آریایی